# که ستاسو په سیمه کې د جنسیتي تاوتریخوالي فعال کس نه وي، څنګه کولای شو د جنسیتي تاوتریخوالي له قربانیانو ملاتړ وکړو؟

د بشر دوستانه سازمانونو د
کارکوونکو لپاره ګام په ګام
جېبي لارښود

# جیبي ای مل لارښود څه دی؟

دغه **جیبي لارښودe** او د دغه مرستندوی مواد د لاندې مسایلو په اړه **د ټولو بشر دوستانه سازمانونو کارکوونکو** ته معلومات ورکوي:

- **د جنسیتي تاوتریخوالي قرباني شوي کس څخه څه ډول ملاتړ وکړو؟**
- **د جنسیتي تاوتریخوالي په اړه د دغوی تجربه له تاسو سره څوک شریکوي؟**
- **دغه مهال چې د جنسیتي تاوتریخوالي د څېړلو مسؤل کس نه وي (د جنسیتي تاوتریخوالي د راجع کولو مسیر او ای د جنسیت اړوند چارو د ارتباطي کس په ګډون)**

**دغه جیبي لارښود** د جنسیتي تاوتریخوالي قربانیانو ته له کوم زیان اړولو پرته د ملاتړ او اساسي معلوماتو چمتو کولو په تړاو د نړیوالو معیارونو تابع دی. موږ تاسو هڅوو ترڅو دغه لارښود د جنسیتي تاوتریخوالي د کارپوهو په ملتیا، ستاسو محلي شرایطو ته په کتو پر قرباني د تمرکز لرونکې تګلارې له مخې، تعدیل او تطبیق کړئ.

دغه لارښود د دغو لومړنیو رواني مرستو (چمتوالی، کتل، غوږ نیول او راجع کول) له چوکاټ څخه ګټه اخلي چې په اړه یې مخکینی پوهې او روزنې ته اړتیا نه شته. له دې سره، سپارښتنه کېږي چې د لومړنیو رواني مرستو په اړه جامع روزنه ورکړل شي.

| برخې | مخ | کاریدل |
|---|---|---|
| مهم پیغامونه | 2 - 3 | بېړنی لارښوونه |
| د پرېکړه کولو ونه | 4 | |
| د شته خدمتونو په اړه معلوماتي پاڼې | 5 - 6 | |
| څه وکړو، څه ونه وکړو(بایدی او نه بایدی کارونه) او څه ووایو:<br>کتل<br>غوږ نیول<br>راجع کول | 7-10 | |
| ګام په ګام لارښوونه<br>د مرستې ډلټون او د PSEA لارې کارول<br>چمتوالی، کتل، غوږ نیول او راجع کول | 11 - 15 | د غبرګون ښودلو لپاره چمتوالی، د اړینو مهارتونو او پوهې ترلاسه کول |
| ماشومان او تنکي ځوانان | 16 - 20 | د ماشومانو او له ۱۸ کالو څخه کوچنیو ځوانانو لپاره بېړنی لارښونه |



1 د ګټه اخیستونکو لپاره مخینه او لارښوونې د لارښود مل ای ضمیمه دي.

# مهم پیغامونه

**پېژندګلوي مه کوئ.** خو کله چې کوم څوک د مرستې او ملاتړ غوښتنه کوي، په لاسرسي کې اوسئ.

- **خپل ژمنتوب او مسؤلیت په یاد ولرئ.** د بشر دوستانه سازمانونو ټول کارکوونکي مکلف دي چې اړمنو کسانو ته له کوم تبعیض او قضاوت پرته ملاتړ چمتو کړي؛ هغه کار باید د اړمن کس جنسیت، جنسي تمایل، جنسیتي هویت، مدني حالت، معلولیت، عمر، قوم، ټبار، نژاد او مذهب ته له کتو پرته وشي او دا هم په پام کې ونه نیول شي چې تاوتریخوالی کوونکی څوک دی او هغه وضعیت څه ډول دی چې تاوتریخوالی په کې پېښ شوی.

**پر قرباني باندې له متمرکزې تګلارې څخه په لاندې برخو کې ګټه واخلئ:**

- **درناوی کول:** ستاسو له خوا هر پورته کېدونکی ګام باید د قرباني انتخابونو، غوښتنو او حقونو ته د درناوي تابع وي.
- **امنیت او خوندیتوب:** د قرباني امنیت او خوندیتوب لومړی درجه لومړیتوب دی.
- **راز ساتنه:** قربانیان حق لري په ګوته کړي چې خپله کیسه چاته وکړي او چا ته نه. د راز ساتنې مانا دا ده چې موږ باید د هغه معلومات له چا سره شریک نه کړو.
- **راز ساتنه:** له هر هغه چا سره د یوشان او عادلانه چلند کول چې مرستې او ملاتړ ته اړتیا لري.

- **د جنسیتي تاوتریخوالي له کارپوه سره تل خبرې وکړئ ترڅو پوه شی چې ستاسو په ساحه کې د جنسیتي تاوتریخوالي اړوند کوم ډول خدمتونه شته دي.** ځینې خدمتونه ښايي د شکایتونو ټیلفوني کرښه، د موبایل اپلیکیشن یا د لرې لارې ملاتړ نورې لارې وي.
- **په خپله سیمه کې د خدمتونو له نورو ډولونو ځان خبر کړئ.** هغه خدمتونه وپېژنئ چې د همکارو سازمانونو له خوا چمتو کېږي، لکه روغتیايي خدمتونه، رواني ملاتړ، د سرپناه او خوراکي توکو چمتو کول. هغو خدمتونو ته هم پام وکړئ چې د ټولنیزو بنسټونو لکه جوماتونو، ښځینه ټولنو او د معلولانو خدماتي سازمانونو له لارې چمتو کېږي.
- **خپل رول له یاده مه باسئ.** ښه اورېدونکی اوسئ او قضاوت مه کوئ. د شته خدمتونو په اړه نوي معلومات وړاندې کړئ. قرباني ته اجازه ورکړئ چې خپله پرېکړه وکړي. ځان پوه کړئ چې څه شی اداره او څه شی نه شو اداره کولی. ان ستاسو په ساحه کې د جنسیتي تاوتریخوالي د څېړنې مسؤل کس په نه شتون کې، ښايي د ماشومانو د ساتنې یا رواني روغتیا د کارپوه په څېر نور همکاران موجود وي؛ دوی کولی شي له اړمنو قربانیانو ملاتړ وکړي. وړاندې له دې چې بل کس ته یې راجع کړئ، له قرباني څخه اجازه واخلئ. که چېرې له دې پرېکړې سره مخالف و، هغه کار ته یې مه اړباسئ.
- **د جنسیتي تاوتریخوالي د قربانیانو فعال لټون او**

- **د قرباني هویت پټ وساتئ امنیت یې خوندي کړئ. د هغه شخصي جزئیات او یې د هویت څرګندوونکي ټکي او هم د هغه تجربه ان د ځارونکو لپاره هم مه لیکئ، انځور یې مه اخلئ او او یې د څېړې ړول په شفاهي بڼه مه بیانوئ. خپل ټیلفون او کمپیوټر بل ځای کېږدئ ترڅو قرباني د غږ ثبتېدلو په اړه اندېښنه ونه لري.**

- د هویت او د معلوماتو شخصي په پېژندنې کې وکړونکي الرمې په ټکي شامل دي: د قرباني نوم، د کس نوم، د کورنۍ او نور نږدې خپلوانو کس نوم، د کورنۍ نوم، د کورنۍ تبت نوږون، پته، پته د کارځای پته، د هغه د اولادونو پته، د ښوونځي آدرس، د پېښې پېښېدلو د روز او ځای او تاریخ وخت او ځای او نور.

- له لاندې کسانو سره د عمومي معلوماتو او جزئیاتو شریکول د قرباني هویت نه برملا کوي:
  - — له روتوکسټو د تیم او د خپل ملګرو کارکوونکو سره د قرباني د جزیي معلوماتو شریکول ته اړتیا نه لري.
  - — د ځای – مراقبتي انتخابونو او د کورنۍ د تشويق د حمايت او ملاتړ له خپلې حمايوي او ملاتړ مرسه.

“ومي لیدل چې خلک د اوبو رسوني په ساحه کې له خپل د جنسي تیري سره مخامخ کېږي چې له استوګنځای لري پرته ده. موږ د اوبو رسوني له نیږدې ځایونو څخه د اوبو راوړلو په پوړ د او اوبو راوړلو په ګروپي بڼه د اوبو راوړلو په هم او د هغه ځای کې په هغو کې مرسته کولای شو د هغه شان تيري او تشويق مخه ونیسو.”

“که موږ کس خپل بد تجربه له ما سره شریکه کړه. نه مې له هغې څخه ملاتړ کوو، په دې ډول د هغه جزئیات کوم ځای کې کړم. خو له هغه اغېز سره د عادت کېدو په اړه ملاتړ ته اړتیا لرم چې هغه تعامل پر ما کړی دی.”

- **که چېرې روغتیایي خدمتونه موجود وي، تل د هغه څه په اړه معلومات ورکړی چې شته دی.** هغه څه بیان کړئ چې حېرشت مه او ی.بېهوپ پېرپ وسات مرسرت نه هنوراک موک وسات چې کړئ. اجازه ورکړئ خپله قرباني هغه کوی. ته د السرسي په اړه پرېکړه وکړي. بسانم د ۷۲ ساعتونو په اوږدو کې د لاکولو له نه السرسي ته طبي مراقبت تی اړتیا لري د د شي مقاربتي انتانونو له سرای ۱۲۰ د زار هغه او یکړو مخنیوی څخه شان هغه د کې اوږدو په ساعتونو ان د ی شي کولای وتمچ تبقارم مخنیوي له راتلونکې شوي امیندواری هغه مرسته وکړي.

- تل وخت ته وسانکو رونوکي ت ی ل ولعم په روزانه پرسرپرستانو چې د خپلو سرپرستانو کړئ چې له هغو سره مرسته کېدای شي او کې هغه سره نه شي پوښتنه د کړي، البته که چېرې هغه په هغه څخه سرپرستانو کې هغوی او هغه د کورنۍ له کار او د سرپرستانو ځنډ ورکړي نه خرابوي.

- که هغه او یا له هغو کې په چې له هغه نه او دا یې دی هم جنسي تیری شوی وي، جنسیتي تاوتریخوالی د مخ په ډېرو د ځواک پر د جنسیتي اساس تمرکز، چې نه یوازې د جنسي بلکې له جنسیت سره د تړلي تبعیض او ملاتړ سره سم هم. جنسیتي تاوتریخوالی د شخص د قدرت پر بنسټ دی نه د جنسیت.

- جنسي او جنسیتي اقلیتونه ډېر کله د جنسي تمایل او د جنسیتي هویت له امله د ژبني او تاوتریخوالي د شدیدې خطر په درشل کې وي. د قربانیانو ټولو خبرو ته په فعاله توګه غوږ ونیسئ او هغه څه وکړئ چې هغوی ملاتړ څرګند کړئ.

- جنسیتي تاوتریخوالی د هر کس له خوا پېښېدای شي، د مثال په توګه د مېړه/ښځې له خوا، د جنسي شریک، د کورنۍ غړي، سرپرست، د مېړه/ښځې د کورنۍ غړي، پردي کسانو، والدینو او هم غوښتونکي کسانو، له خوا چې د جنسي عمل په بدل کې پیسې او یا بل څه ورکوي.

# د پرېکړه کولو ونه

د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره 16 مخ ته مراجعه وکړئ.

## چمتوالی ونیسئ
په شته خدمتونو ځان خبر کړئ.

د جنسیتي تاوتریخوالي یوه قضیه تاسو ته اورول کېږي

**د بل کس له خوا...**

د هر هغه خدمت یا ملاتړ په اړه چې ښايي د قربانيانو لپاره موجود وي، کره او نوي معلومات وړاندې کړئ. د پام وړ کس وهڅوئ چې دغه معلومات په خوندي او محرمانه توګه ځاروونکي ته وسپاري. **نوټ: د جنسیتي تاوتریخوالي قرباني شوی کس مه لټوئ.**

**د ځاروونکي له خوا**

وګړئ او غوږ ونیسئ
(7 او 8 مخونو ته مراجعه وکړئ)

ځان معرفي کړئ. پوښتنه وکړئ چې څنګه مرسته کولای شئ. درناوی، امنیت، راز ساتنه او تبعیض نه کول له یاده مه باسئ.

آیا د جنسیتي تاوتریخوالي مسؤل کس یا د راجع کولو مسیر شته.

هو. د راجع کولو مسیر تعقیب کړئ او قرباني ته د شته خدمتونو معلومات ورکړئ او د اجازه له اخیستلو وروسته یې ځاروونکي ته راجع کړئ.

نه. راجع یې کړئ (9 او 10 مخونو ته مراجعه وکړئ) د شته خدمتونو په اړه کره معلومات ورکړئ.

آیا قرباني کس خدماتو ته د لاسرسي په خاطر انتخاب درلای سي؟

**هو.** د شته خدماتي مرکز یا سرچینې په اړه معلومات ورکړئ. یانې دا چې څنګه کولای شي ترلاسه یې کړي، څه وخت او چېرته وړاندې کېږي، ارتباطي کسان څوک دي، خوندي ټرانسپورټ کوم دی او نور. د قرباني ارزونې جزئیات یا تجربه د هغه له رضایت پرته په پټه او ښکاره له بل چا سره مه شریکوئ. د پېښې داسې جزئیات یا ټکي مه ثبتوئ چې د قرباني هویت په ډاګه کوي.

**نه.** راز وساتئ. تشرېح کړئ چې قرباني کولای شي خپل نظر بدل او بیا د خدمتونو لټه وکړي. که خدمتونه لنډمهاله، ګرځنده یا د لنډې مودې لپاره وي، په دې اړه معلومات ورکړئ چې دغه خدمتونه به کله بندېږي.

Adapted from the Shelter Cluster’s GBV Constant Companion (www.sheltercluster.org/gbv).

# معلوماتي پاڼه

دغه جدول په خپله سیمه کې د شته خدمتونو د ثبت لپاره ډک او په داسې ځای کې یې خوندي کړئ چې ټولو ته د لاسرسي وړ وي.

د جنسیتي تاوتریخوالي له موی کارپوهه، له خپل سرگروپ یا نورو همکارانو سره د لاندې ټکو په گوته کولو لپاره کار وکړئ: (1) دغه موجود خدمتونه چې د همکارو بشردوستانه سازمانونو له خوا چمتو کېږي او (2) محلي خدمتونه لکه دیني گروپونه یا دیني ځایونه، د ښځو گروپونه، د معلولانو سازمانونه او نور.

| | | |
|---|---|---|
| د ماشومانو ساتنه | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| د رواني روغتیا/ رواني ملاتړ مرکز | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| روغتیا | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| جنسي او د مېندوارۍ روغتیا | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| ان خوراکي توکي/ د روغتیا ساتنې بنډل | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| سرپناه/ د امن خونه | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |

| | | |
|---|---|---|
| حقوقي مسایل | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| خواړه او تغذیه | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| د تنکیو ځوانانو/ ځوانانو لپاره خدمتونه | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| د معلولیت لرونکو کسانو لپاره خدمتونه | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| د جنسیتي ویکړل یا اقلیتونو لپاره خدمتونه | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| د ښځینه یا ماشوم سرپرستو کورنیو لپاره خدمتونه | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| نور خدمتونه | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |
| نور... | معلومات: | |
| | ارتباطي کسان: | |

# وکړو، څه ونه کړو او څه ووایو؟

ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره ۱۶ مخ ته ورشئ

## کتل

### هغه څه چې باید ونه شي

- ✖ د هغه کس په اړه بې پروايي مه کوئ چې تاسو ته راځي او وايي ناوړه کار ورسره شوی او نه شي کولای په اړه يې خبرې وکړي، یا دا چې له تاوتریخوالي سره مخ شوی.
- ✖ په مداخلې او ټینګار سره یې د مرستې منلو ته مه اړباسئ.
- ✖ له حده ډېر غبرګون مه ښکاره کوئ او تل خپله آرامي وساتئ (آرام اوسئ).
- ✖ په قرباني فشار مه راوړئ ترڅو له هغو معلوماتو پرته نور جزئیات مه بیان کړي چې ځان ورسره راحت احساسوي. د پېښې جزئیات او دا چې چا ورسره تاوتریخوالی کړی، د غوږ نیولو په برخه کې ستاسو له رول او د ارتباطي خدمتونو په اړه د معلوماتو له وړاندې کولو سره اړه نه لري.
- ✖ پوښتنه مه کوئ چې آیا له جنسي تاوتریخوالي سره مخ شوي کس باندې جنسي تېری هم شوی که نه، یا وهل ډبول شوی او داسې نور.c.

### هغه څه چې باید و شي

- ✓ اجازه ورکړئ چې قرباني تاسو ته نږدې شي. د هغوی اړتیاوو ته غوږ ونیسئ.
- ✓ پوښتنه وکړئ چې څنګه کولای شئ د هغوی د بېړنیو او اساسي اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړئ. یو شمېر قربانیان ښايي جامو یا بېړني روغتیايي مراقبت ته اړتیا ولري.
- ✓ له قرباني پوښتنه وکړئ چې آیا په خپل اوسني ځای کې د راحتۍ احساس کوي. که چېرې له هغه سره کوم بل څوک تاسو ته راغلي، داسې مه ګڼئ چې د قرباني د تجربې په اړه خبرې کول به د هغه کس په شتون کې ستونزه ونه لري.
- ✓ عملي ملاتړ چمتو کړئ، لکه د اوبو ورکول، د استنې لپاره د ځانګړي ځای جوړول او نور.
- ✓ تر هغه ځایه چې شونې وي، له هغه غوښتنه وکړئ چې هغه څوک انتخاب کړي چې دی ورسره ځان راحت احساسوي ترڅو د اړتیا پرمهال خبرې ترجمه کړي او یا ورسره مرسته وکړي.

### د لاندې پوښتنو په څېر ټکي ویل کېدای شي...

- ⇢ “داسې ښکاري چې ډېر درد لرې، آیا غواړې روغتیایي کلینیک ته لاړ شو؟”
- ⇢ آیا په دې ځای کې ځان راحت احساسوئ؟ آیا بل داسې ځای شته چې تاسو په کې له دې ځایه ډېر امنیت احساسوئ؟ آیا بل ځای شته چې له دې ځایه په کې ښه احساس ولرئ؟ آیا کولای شئ دلته په اسانۍ خبرې وکړئ؟”
- ⇢ آیا د څښاک اوبه درته راوړم؟ مهرباني وکړئ په خپل ځای کې کېنئ.”

# لیدنه ږغول

## هغه څه چې باید وشي

✓ هغه معلومات محرمانه وګڼئ چې له تاسو سره شریکیږي. له که له قرباني څخه د ملاتړ په برخه کې معلوماتو او مرستې ته اړتیا لري، له خپلو خارووندکي اجازه واخلئ ترڅو له هغه ځای څخه د ملاتړ په برخه کې معلوماتو ته لاسرسی وکړئ. پرته له دې چې له هغه څخه پوه شوي یاست، ډاډ ترلاسه کړئ چې قرباني هیڅ وخت د هغوی لپاره ژمنه نه وي کړې.

✓ د راز ساتنې د حدودو په اړه ره ډول مرستو کې په ټولنیز توګه د وخت قرباني کولو شرایط ته په اړه اداره کړئ.

✓ د خپل رول په اړه توقعات مدیریت کړئ.

✓ تر دېره ږغو ونیسئ او خبرې مه کوئ.

✓ یو څو آرام بښوونکي او ملاتړ خبرې وکړئ؛ ټینګار وکړئ چې قرباني په دې پیښه کې ملامت نه دی.

## شیانو ته ډیری پاملرنه وکړئ

✖ هیڅ شی مه لیکئ، د قرباني انځور مه اخلئ، له هغه سره خبرې په موبایل ای بل څه کې مه ثبتوئ، نورو کسانو ای رسنیو ته یې مه واياست.

✖ د پیښې په اړه پوښتنه مه کوئ. ږغو ونیسئ او پوښتنه وکړئ چې څه مرسته کولای شی.

✖ خپله شخصي تجربه له هغې پیښې سره پرتله مه کوئ چې بل چا ته پیښه شوې. داسې مه واياست چې «ما پوهیږم» یا «زه پوهیږم». د ستونزو حل د بل چا په تجربه نه کیږي. قرباني له دې تجربې څخه څه حس لري.

✖ د قرباني په خبرو شک مه کوئ ای یې وسائل مه ګڼئ. په دې ډول چې وي تاسو د تړاو لپاره هڅه وکړئ او د ټولو ټولنو مرسته په اړه د معلوماتو ورکولو نه دی.

## د لاندې پوښتنو په څیر ټکي ویل کیدای شي...

→ "څنګه کولای شم له تاسو سره مرسته وکړم؟"

→ زما او ستاسو خبرې به زموږ ترمنځ پاتې شي، ستاسو له اجازې پرته یې له بل کس سره نه شریکوم."

→ "څه کوم تر کومه حده چې شوني وي له تاسو سره مرسته وکړم خو زه مشاور نه یم، زه غواړم د شتون خدمتونو او ملاتړ په اړه تاسو ته معلومات درکولای شم."

→ " مهرباني وکړئ هغه څه راته وواياست چې تاسو يې غواړئ. د دې لپاره چې تاسو ته د شتون خدمتونو او ملاتړ په اړه معلومات درکړم، اړینه ده چې تاسو د خپلې تجربې کیسه راته وکړئ."

→ " په دې دېر خواشینی شوم چې تاسو ته دغه پیښه رخ شوې."

→ " تاسو د دې پیښې په اړه ملامت نه یاست."

د څېړنو شرایط لپاره د راپور ورکولو جبري قواعد شته او دا په ځینو ځانګړو قضیو پورې اړه لري. د لا دېرو معلوماتو او لارښوونې لپاره له خپل ارتباطي کس ای مه د جنسیتي تاوتریخوالي له کارپوهو سره اړیکه ونیسئ.

# راجع کول

راجع کول

## هغه څه چې باید وشي

✓ د قرباني حقونو ته درناوی ولرئ
او اجازه ورکړئ چې خپله پرېکړه
وکړي.

✓ د ټولو شته خدمتونو په اړه
معلومات ورکړئ، ان که چېرې
د خدمتونو ډول په جنسیتي
تاوتریخوالي پورې اړه ونه لري.

✓ خاورنکي ته ووایئ چې قرباني
د اوس لپاره اړ نه دی چې پرېکړه
وکړي. شاید نظر یې بدل شي
او وغواړي چې دغو خدمتونو ته په
راتلونکي کې لاسرسی ولري.

✓ پوښتنه وکړئ چې آیا کوم بل
کس، ملګری، د کورنۍ غړی،
سرپرست یا بل هر څوک شته چې
د باور وړ وي او خاورنکی وکولای
شي د مرستې لپاره ورته مراجعه
وکړي.

✓ که فکر کوی چې خطر نه لري،
خپل ټیلفون یا بل اړتباطي
وسیله قرباني ته ورکړئ ترڅو
له هغه کس سره اړیکه ونیسي چې
پرې باور لري.

✓ د هر کار له سرته رسولو وړاندې له
قرباني څخه اجازه واخلئ.

✓ خبرې مو په ملاتړې بڼه د مرستې
په ژمنه ورکولو سره پای ته
ورسوئ.

## هغه څه چې باید ونه شي

✖ د خپلو مهارتونو په اړه مبالغه مه
کوئ. د درواغو ژمنې مه کوئ او ناسم
معلومات مه ورکوئ..

✖ د اقدام د غوره مسیر یا نورو پړاوونو
په اړه خپل شخصي نظر مه وړاندې
کوئ.

✖ داسې مه انګیرئ چې پوهېږئ د پام
وړ کس څه غواړي یا څه ته اړتیا
لري. ځینې کارونه شاید قرباني
له خطر، نوم بدېدلو، غچ اخیستلو
او لا ډېر زیانمنتوب سره مخ کړي.

✖ د شخص یا د هغه د تجربې په اړه
فرضیې مه وړاندې کوئ او د عمر، مدني
حالت، معلولیت، مذهب، قوم، طبقې،
جنسي تمایلاتو، جنسیتي هویت، د
تاوتریخوالي کوونکي کس د هویت
او نورو مسایلو په ګډون له څېه امله
ورسره تبعیض او تعصب مه کوئ.

✖ هڅه مه کوئ چې د جنسیتي
تاوتریخوالي قرباني شوي کس او
بل چا ترمنځ (لکه د تاوتریخوالي
کوونکی کس یا هر بل دویم کس لکه
د کورنۍ غړی، د ټولنیزې کمېټې
غړی، ټولنیز مخور یا نور کسان)
ستونزه هواره یا جوړجاړی وکړی.

✖ د پېښې جزئیات او د قرباني د هویت
د کورنۍ د ټکي کوونکي برملا
غړیو، پولیسو، ټولنیزو مشرانو،
همکارانو، ناظرانو او نورو کسانو په
ګډون له هېچا سره مه شریکوئ. د دغو
معلوماتو شریکول شاید قرباني ته
د لا ډېر زیان اوښتو سبب شي.

✖ د خبرو له پای ته رسېدو وروسته،
له قرباني نورې پوښتنې مه کوئ
او یا ورسره اړیکه مه نیسئ.

## د لاندې پوښتنو په څېر ټکي ویل کېدای شي...

- “زموږ خبرې به د یوه راز په توگه زما او ستا ترمنځ پاتې شي.”
- زه مشاور نه یم خو کولای شم خپل معلومات له تاسو سره شریک کړم. داسې خلک او سازمانونه شته چې ښايي له تاسو او ستاسو له کورنۍ سره مرسته وکړي. آیا غواړی د هغوی په اړه پوه شی؟”
- “ دا د خدمتونو جزئیات دي یانې د خدمتونو ځای، د خدماتي مرکز د فعالیت وختونه، لګښت(که چېرې لګښت ولري)، ټرانسپورټي امکانات او د هغه کس نوم چې تاسو کولای شی ورسره خبرې وکړئ.”
- “ آیا داسې باوري کس شته چې ترې مرسته وغواړی ای ورته مراجعه وکړی، د مثال په توگه د کورنۍ غړی ای ملگری؟ آیا غواړی زما په ټیلفون له هغه چا سره اړیکه ونیسی چې همدا اوس ورته اړتیا لری؟”
- “ په راتلونکو پړاوونو کې به هر هغه څه تر ټولو مهمه ملاحظه وي چې ستاسو غوښتنه وي او ورسره راحت یاست.”
- “ په دې شېبه کې د پرېکړه کولو لپاره پر ځان فشار مه راوړئ. کولای شی فکر وکړی او په راتلونکې کې خپل نظر بدل کړئ.”
- “ نه شم کولای د وضعیت څېړلو لپاره ستاسو له خوا له کوم بل کس سره خبرې وکړم. خو هغه څه چې زه یې کولای شم دا دي چې د خبرو په لړ کې له تاسو سره مرسته وکړم او اندېښنو ته مو غوږ ونیسم.”
- “ داسې ښکاري چې د راتلونکو پړاوونو وهلو د خرنگوالي لپاره کوم پلان لری. دا یو مثبت گام دی.”

# د قرباني لېدلورى:

## ښځې ګټې او خطرونه چې د ملاتړ (مرستې) په لټون کې شته دي

نارينه ژبې لا د ته ښځه شي کېداى او وي نه خطره بې مرکه ولپاره قرباني د تخت هر لټون د خدمتونو د وي او مرکه اړه په خدمتونو شته د چې دى اد لور وسايلو ستاسو چې وي مو داى په شي ببسب وتونډاو مه د وي کرکه ولي چې کرکه کې انتخاب څه ښځه چې کېږي کرېدو اجازه ته قرباني او کړې وړاندې معلومات لپاره خطر نه لري. د ګټو او خطرونو پر لاندې مثالونو فکر وکړئ:

### د ملاتړ لټولو خطرونه

- د دې احتمال چې ممکن د قرباني ملګرې، کورنۍ يې ټولنه له موضوع خبر شي او ښځه کار ښايي د قرباني د بدنامۍ، له کور يا ټولنې څخه شړل ووي او دېكې د وي لا ژبې له او دې تاوتريخوالي سره د مخامخ کېدو سبب شي.
- د دې احتمال چې تاوتريخوالي کوونکى سر خبر شي چې نور کسان پوهېږي ده څه کړي دي. ښځه چې د قرباني له سره وار خپل په شي کوالى کار او لا ځان ته خطر لاستلو د ژوند کېدلو د ښځه زيات کړي.
- د دې احتمال چې تاوتريخوالى کوونکى سر خبر شي چې نور کسان پوهېږي ده څه کړي دي. ښځه کار کوالى شي په خپل وار سره له قرباني د ځانه زيات خطر لا کېدلو ژوند د ځان يا اخيستلو ځان کړي.
- دې د شوې، وکړل ورکړې هم وي نه روزنه سم چې کړې خدمتونو چمتو کوونکي ښځې احتمال شته چې د خدمتونو چمتو کوونکي ښځې مناسب او له ملاحظې پرته غبرګون ونه ښيي.

### د ملاتړ لټولو ګټې

- د ان ډول ملاتړ ته لاسرسى. د ان هرډول پرمالو ژغورنديزه ملاتړ ته لاسرسى.
- په خپل وخت او داسې بېړنۍ خوندي، محرمانه او آي چې د لاسرسى ته مراقبتي مسلکي طبي روغتيايي ځانګړو او ان غوښتنلو شوي ميندوارۍ وي/ايډز له سرايت او ان څخه مخنيوى وکړي.
- داسې نورو خدمتونو ته لاسرسى چې د قرباني د ځان پاره لا ځای بېره هوساينه منځته راوړي، لکه امنيت ښېنګښت او د رواني ملاتړ تړل ساتل.
- له داسې ملاتړ څخه برخمنېدل چې کولاى شي د لا ژبې تاوتريخوالي له پېښېدو څخه د مخنيوي په برخه کې مرسته وکړي.

---

**د بشردوستانه سازمانونو د کارمندو يا له دې سازمانونو سره تړلو کسانو له خوا جنسي ځورونه او استثمار**

له «جنسي ځورونې او استثمار څخه د ساتنې» اصطلاح ښځه وو پړاوونو ته د اشارې لپاره کارول کېږي چې د بشردوستانه سازمانونو سره د کارکوونکو يا هم له دوى سره تړلو کسانو له خوا د جنسي ځورونې يا ناوړه ګټنې پر وړاندې له زيانمنو کسانو په کې ساتنه کېږي. په ښځه کسانو کې مرستندويه کارګران، رضاکاران، امنيتي ګارډان، موټر وانان، د ملګرو ملتونو د ښځې پرسونل، د ملګرو ملتونو پوليس، سوله ساتونکي ځواکونه، پلورونکي، د خدمتونو او جنسونو چمتو کوونکي او ځينې نور کسان شامل دي.

دې ته له کتو پرته چې د سره کس شوى ځورېدلى تاوتريخوالي د جنسيتي تاوتريخوالي خوک دى، د قرباني شوي کس څخه د ملاتړ ښځه نقش به وى شان وي چې په دې سرچينه کې وړاندې شوى. د مرستندويه کارمند يا هم د بشردوستانه سازمانونو اړوند کسانو له خوا د تاوتريخوالي کېدلو په صورت کې پر نورو مسؤليتونو د پوهېدلو لپاره، له «جنسي ځورونې او استثمار څخه د مخنيوي» اړوند چارو کې له خپل ارتباطي کس يا هم د هېواد په داخل کې له شته ښکېلې سره اړيکه ونيسئ.

مسؤل کې برخه دې په مرابل
ارتباطي کس ته مراجعه وکړئ.

## مشق او تمرین د بشپړتیا
## لامل کېږي

- **په 7 تر 10 مخونو کې وړاندې شوي مثالونه** تمرین کړئ. دغه ونکارامه د خپلو ړغږ په کار اړ په ملګرو او ملتیا وکړئ. هره خومره چې ډېر تمرین وکړئ، د دغه جنسیتي تاوتریخوالي له قرباني سره د مخامخېدو پرمهال د وسات ته په ولوړ خاطر وي چې مو ته مرستي مرابل راځي.
- **د دي اړه د ال ډېرو معلوماتو** په ګډ مرابل چې ځنګه سرالت وکولو، دغه مطالب تمرین کړو، **د کاروونکو دوسیږالو** ته مراجعه وکړئ.
- **دغه جېبي دوسیږال** د هره دغه چا زمنوتسن له چې دی ورتسګډ مرابل وضعیت تېریږي. بل ځل چې د ګریل ملګری ای مکارامه کوم وسات د مرستې ای مشورې مرابل راځي، دغه مطالب په سرچینه کې د وړاندې پوښتنو او جملو په وړاندې شوی وکولو سره تمرین کړئ.

## کتل:

**کله چې یو کس د جنسیتي تاوتریخوالي په اړه خپله تجربه له تاسو سره شریکوي....**

### ځان معرفي کړئ

- خپل نوم، رول او دنده ووایئ. ته مرسته وکړئ چې هڅ پوښتنه وکولای شی.

### د قرباني بېړنۍ او اساسي اړتیاوې پوره کړئ

## چمتوالی:

**چمتوالی یو مهم اصل دی:** په حتاً ډغه و شرايطو کې چې د جنسیتي تاوتریخوالي قضیو مسؤل کس(د ارتباطي مکانیزم ای ارتباطي راجع کولو کس) تاسو په سیمه کې نه وي، په سیمه کې د نورو خدمتونو د شتون احتمال شته چې د راپور ورکولای شي په برخه کې د کس د اړتیاوو پوره کولو په برخه کې مرسته وکړي. په خدمتونو کې د نورو اړه ډېر معلومات ترلاسه کړی چې تاسو یې فکر کوی.

## د شته خدمتونو په اړه معلومات ولرئ

- **له معلوماتي پاڼې څخه(5 او 6 مخونه)** د شته خدمتونو په اړه د ځېته مرابل د کولو درج معلوماتو واخلئ. د جنسیتي تاوتریخوالي له کارپوه، پروګرام، همکارانو او د نورو شریکانو سره ګډ کار وکړئ. دغه خدمتونو ته د لاسرسي په اړه د خونګوالي اړین معلومات ولیکئ، داڼې چې مرابل د مراجعه چېرته خدمتونو شي، له چا سره خبرې شي، کوم خدمتونو ته کسانو کولای شي (د لاسرسی ولري او کوم کسان نه مثال په توګه، ځینې ښځې، ووازې، اړین اسناد او نور).
- له پروګرام د پروګرسر، له خپل مرابل سره ای د خپل سکټور له مغږیو څخه کوونکې د جنسي تیري، خوروني او استثمار د مخنیوي کوونکو د پروتوکولونو په اړه پوښتنه وکړئ. که چېري تاسو سازمان جنسي خورونې او استثمار څخه د مخنیوي په اړه وضع شوی پروتوکول نه لري، د الرښووڼې

کسان چې په بېلو ژبو خبرې کوي او ځینې نور ښايي د ملاتړ لټولو لپاره له بېلابېلو خنډونو سره مخامخ شي. دغو کسانو ته د غوږ نیولو او ملاتړ کولو د لارو چارو لټولو لپاره، پر قرباني متمرکز اصول او خصوصي حریم رعایت کړئ. حتا که نه شی کولای چې یو خوک درک کړی، بیا هم باید د هغه لپاره مراقبت او ملاتړ چمتو کړئ.

- ډاډ ترلاسه کړی چې په هغو حالاتو کې باید د ځانګړي ملاتړ چمتو کولو لپاره ښځینه کارکوونکې حضور ولري چې ښځې او نجونې د فرهنګي مسایلو له امله نه شي کولای له نارینو سره تعامل وکړي.

## په ګوته کړئ چې کوم څیزونه اداره او کوم نه شی اداره کولای

- ځینې وضعیتونه ستاسو له رول څخه د لا ډېر تخصصي ملاتړ چمتو کولو ته اړتیا لري. د مثال په توګه، د ماشومانو اړوند وضعیت، د راپور ورکولو اجباري شرایط، که چېرې د قرباني لپاره پېښېدونکی خطر موجود وي یا په هغو شرایطو کې چې قرباني ممکن ځان یا نورو کسانو ته زیان واړوي، ښايي یو شمېر نور مرکزي

- هر کس بېلې اړتیاوې لري، لکه بېړنۍ روغتیایي مراقبت، اوبه، جامې، کمپله یا د یوه ورک شوي خپلوان موندل. د جنسیتي تاوتریخوالي قرباني ممکن په ځانګړې توګه د لا ډېرې راحتۍ لپاره او دغه راز د خپل عزت د ساتلو لپاره بېړنیو جامو ته اړتیا ولري.
- اجازه ورکړئ قرباني ووايي چې د خپل شخصي امنیت په اړه څه حس لري. د خپلو کتنو پر بنسټ له فرضیه جوړونې څخه ډډه وکړئ.

## د دغو بېلابېلو لارو په اړه معلومات ولرئ چې خلک یې د ملاتړ لپاره لټوي

- قربانیانو ته اجازه ورکړئ خپل احساسات هغسې بیان کړي چې دی یې غواړي. خلک په بېلابېلو بڼو د فشار او ناورین پر وړاندې غبرګون ښیي. ځینې کسان ښايي غلي شي او خبرې ونه شي کړای؛ ځینې نور ممکن غوسه شي او چیغې وکړي؛ ځانونه د پېښې په اړه ملامت وګڼي؛ وژاړي یا هم د زور کارونې له لارې نورو کارونو ته مخه کړي.
- معلولیت لرونکي کسان، هغه

**په یاد مو وي چې** که غواړی چې د بشردوستانه سازمانونو له یوه خارونکي یا نورو کارمندانو څخه د ملاتړ غوښتنه وکړئ، **تل باید په پېل کې له قرباني څخه اجازه واخلئ.** قرباني ته ووایئ چې غواړی له چا سره خبرې وکړی، ولې غواړی خبرې وکړی او غواړی کوم معلومات شریک کړی. که چېرې قرباني موافق نظر نه درلود یا یې د معلوماتو له شریکولو سره مخامخ مخالفت وښود، په دې لارښود کې د راغلیو وسایلو په کارولو، تر ممکنه حده ورسره مرسته وکړئ.

د ځینو شرایطو لپاره د راپور ورکولو جبري قواعد شته او دا په ځینو ځانګړو قضیو پورې اړه لري. د لا ډېرو معلوماتو او لارښوونې لپاره له خپل ارتباطي کس یا هم د جنسیتي تاوتریخوالي له کارپوه سره اړیکه ونیسئ.

## ونیسی ای مه د ایرتا پرمهال لاندې پوښتنې وکړئ: «آیا کولای شم د دغو خدمتونو په اړه معلومات درکړم چې ستاسو د ملاتړ لپاره شته دي؟» ای «آیا غواړی له تاسو سره مرسته وکړم؟»

### د غوږ نیولو څواک:

ځینې وختونه ښاییي په داسې وضعیت کې اوسی چې ځېه ډول خدمتونه ای سرچینې نه وي ترڅو له قرباني سره یې شریک کړی. دغه مهال ښاییي احساس عاجزی او ىلىه ان د وسات ولری. مهمه دا ده چې له قرباني سره رىښتىنی اوسی، د خپلې تجربې بیانولو پرمهال د دغه شجاعت او زړورتیا درک کړی، په دې اړه خواشینې څرګندې کړی چې ال ډېره مرسته یې نه شی کولای او د خبرو په اوږدو کې یې تر ممکنه حده پورته سوی. د قرباني خبرو ته د فعاله غوږ نیولو ترڅنګ حضور لرل هم وی ملاتړی راک ګڼل کېږي.

## راجع کول:

دغه مهال چې له قرباني سره مرسته کوی ترڅو د نورو پړاوونو په اړه پرېکړه وکړي...

کسان هم موجود وي چې په دغه شان حالاتو کې د مرستې او ړول لپاره له چمتو کولو ښه ظرفیت څخه برخمن وي. معلوماتي پاڼې( 5 او 6 مخونه) ته مراجعه وکړئ.

ره وخت مو چې داد مسترالس کړی چې د قرباني بنستيزې اړتياوې پوره شوي او بېړنی خطر شتون نه لري، ، غوږ ونیسئ.

شایيي قرباني ډېر ان آرامه او پرېشانه وي خو ستاسو لپاره مهمه ده چې د موی مرسته کوونکې په توګه تر ورووستې حده آرام اوسئ. قرباني ته اجازه ورکړئ ره څومره چې غواړي، معلومات د ووړاندې کړي. ستاسو رول دا نه دی چې مشوره ورکړی ای صحشخ خدماتي مرکز ته ىوسئ ای مه د دغه څه په اړه مفصله مرکه وکړی چې پر دغه تېر شوي دي؛ بلکې د پېښې په اړه د مفصلو پوښتنو کولو په ځای باید د دغو خدمتونو په اړه د معلوماتو په ور کولو تمرکز وکړی چې تاسو پوهېږی چې شته دی.

## غوږ نیول:

لارښوونه: ښه به دا وي چې د پوښتنې له کولو ډډه وشي، په ځانګړې توګه دغه پوښتنې چې په «ولې» پیل کېږي؛ ځکه چې دغه شان پوښتنې کولای شي په قرباني کې د ملامتی احساس پیدا کړي. په بدل کې، یوازې غوږ

## له خبرو وروسته

**غور او ځان ساتنه:** دا مهمه ده په دای ګوته مسه په راکړه چې ولړی ولالی شی څو نه غواړی ترسره کولای د وضعیت ته سمون ورکړی ای قرباني درد او رنځ لړي کړی. د ورون کولای لوړی غوړ ته وتجربو کسانو شي تاسو د هغوی له دردناکو، تکان مرسه وتجربو کوووڼکو او وکوووڼکو خامخا کړي؛ دغو تجربو ته د ثانوي ترکان تجربې هم واییي. په دې فکر وکړئ چې رنځګه خای وساتی؛ څکه چې دغه احساسات ستاسو بدن ته هم ارامه کوي. د همکارانو، سرپرګوانو ای د جنسیتي تاوتریخوالي د کارپوهانو په ګډون خپلو حمایوي سیستمونو او شبکو ته مراجعه وکړئ(البته د قرباني رازونه بايد وساتل شي)، د موضوع راپور ورکړی او د مرستي غوښتنه وکړئ.

دا چې د تاوتریخوالي ځانګړي ریټنی ګوته په مثال د(مونولږد تاوتریخوالی) کولای شي په دوراني بڼه عمل وکړي، شاييي قرباني شوی ای هم خبر شي چې کس هم وووینی ای هم بیا له ځل بیا د تاوتریخوالي سره مخ شوی. تاسو نه شی کولای د هغه تجربه بدله کړی مګر دا کولای شي چې:

- د قضاوت کولو پرته له هغه په اړه د هغه خبرې واوری پیښی په اړه د هغه مرسره ورسره ورانديي وو له دي هم مو ـ خبري ی کړې وی ای نه.
- په دې فکر وکړئ چې څنګه کولای شی خپلو پلانونو ته ال بنه والی وبښی، خدمتونه ال خوندي کړی او د جنسیتي تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره ال په زړه پورې چاپیریال چمتو کړی.

## له قرباني پوښتنه وکړئ چې آیا داسې باوري کس شته چې ملاتړ ترې وغواړي.

- وسته چې ستاسو کرهوک سی پوښتنه وکړه یی کړ. ظن څه دی، دیکته یی هغوی چې مرسته له چا وکړي پریکړه غواړي، څه وخت او ولې.
- د وضعیت په اړه شخصي نظر مه ورکوئ.

## که چیرې خدمتونه موجود وي، د شته خدمتونو ای هم نورو انتخابونو په اړه کره معلومات ورکړئ.

- چمتوالی وی مم اصل دی. له معلوماتي پاڼي(۵ او ۶ مخونه) ګټه واخلئ او داډ ترلاسه کړی چې د شته خدمتونو او هغو ته د لاسرسي د ځرنګوالي په اړه نوي او کره معلومات په واک کې لرئ.
- که چیرې د ځانګړو خدمتونو د ترهه نشتون په اړه ډاډمن نه یاست، وواېئ چې په دې اړه اطمینان نه لرئ.

## خبرې په خواخوږۍ سره پای ته ورسوئ.

- راز ساتنه وکړئ.
- د هرې هغې پریکړې ملاتړ وکړئ چې د قرباني له خوا کیږي.
- د رول وساتو ستاسو چې وي مو دای په پریکړه کولو او انتخابونو په تکانه کې له قرباني څخه ملاتړ کول دی، حتا که چیرې قرباني کومه پریکړه ونه کړي. د دوسیې د مدیریت لپاره له قرباني سره د بیا ځل لیده کاته او مشورې ورکولو ږده وکړئ.

## مهم پیغامونه

- تل په پیل کې د خپل هېواد یا سیمې د جنسیتي تاوتریخوالي له کارپوهو یا د ماشومانو ساتنې له کارپوهو سره **خبرې وکړئ** ترڅو پوه شئ چې: (1) ستاسو په سیمه کې کوم ډول خدمتونه شته دي او(2) محلي پروتوکولونه او کړنلارې څه دي.
- **زیان نه اړول.** د تاوتریخوالي قرباني شویو ماشومانو لټون مه کوئ. ستاسو کار د دې ټکي په اړه څېړنه یا ارزونه نه ده چې آیا یو ماشوم یا یو تنکی ځوان د تاوتریخوالي تجربه کولو په حال کې دی که نه. دغه کار د ماشومانو یا تنکیو ځوانانو لپاره لا ډېر تاوتریخوالی او خطرونه زیږولی شي. خو که چېرې یو ماشوم یا ځوان غواړي له تاسو مرسته ترلاسه کړي، نو تل په لاسرسي کې اوسئ.
- **خپل رول په یاد ولرئ.** که چېرې کوم ماشوم یا تنکی ځوان د مرستې لپاره تاسو ته راغی:

1. خبرو ته یې په دقت سره غوږ ونیسئ او له قضاوت کولو څخه ډډه وکړئ.
2. له ماشوم یا تنکي ځوان څخه یوه داسې لوی کس ته د راجع کولو له لارې ملاتړ وکړئ چې هغه پرې باور لري. دغه کس نه باید د شخص مور یا پلار، سرپرست یا د کورنۍ غړی وي.
3. د هغه په ځای پرېکړه مه کوئ. مه یې مجبوروی چې له تاسو سره د خبرو کولو پرمهال خپل سرپرست یا کوم کس له ځانه سره راولي.

- **ډاډ او دلاسايي ورکړئ.** اجازه ورکړئ چې ماشوم یا تنکی ځوان خبرې وکړي، نا که تاسو غلي پاتې کېدو ته مجبور شی. داسې پوزیشن خپل کړی چې سترگې مو د قرباني له سترگو سره یوه سطحه ولري او د بدن په حرکتونو سره څرگنده کړئ چې که ماشوم یا تنکی ځوان غواړي، کولای شي د ځان په اړه خبرې وکړي. په دې اړه له پوښتنو کولو ډډه وکړئ چې څه پېښ شوي، د چا له خوا او ولې. په بدل کې، له آرامتیا بښوونکو جملو څخه گټه واخلئ او داسې خبرې وکړئ چې قرباني ته د پوهېدلو ور وي.
- **له هر ماشوم سره عادلانه چلند وکړئ.** د جنس، عمر، کورني

**په یاد ولرئ**, که ستاسو په سیمه کې د جنسیتي تاوتریخوالي د څېړلو مسؤل کس، د ماشومانو د ساتنې مسؤل کارمند یا د راجع کولو مکانیزمونه موجود وي، د لا غوره مرستې رسونې په موخه کارپوهو ته د ماشوم یا تنکي ځوان د خوندي او محرمانه راجع کولو لړۍ اسانه کړئ.

خو که ستاسو سیمه کې **دغه مسؤلان یا مکانیزمونه نه وي**، له دې لارښود څخه گټه واخلئ.

د لاندې پروتوکولونو او کړنلارو په اړه اړه د لا ډېرو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره، د خپل هېواد له مسؤل ارتباطي کس سره اړیکه ونیسئ: (1) د زار ساتنې حدود او (2) د جنسیتي تاوتریخوالي او د ماشومانو د ساتنې اړوند چارو مرکزي کسان

په ځینو حالاتو کې ښايي روښانه نه وي **چې څنګه کولای شو د ماشوم له غوره ګټو** او فزیکي او رواني سلامتۍ څخه ملاتړ وکړو. که چیرې مو د امنیتي وضعیت په اړه ډاډ نه درلود، ماشوم ته خبر ورکړئ چې باید په پټه د خدمتونو له یو بل چمتو کوونکي یا د ټیم له هغه غړي سره خبرې وکړي چې د هغه د امنیت ټینګولو په اړه لا ډیره پوهه لري.

**په دې اړه معلومات ولرئ چې ماشوم/تنکی ځوان یا د هغه سرپرست څنګه کولای شي د ملاتړ لټه وکړي.** ماشومان او بالغان د بیلابیلو لارو په کارولو له لویانو څخه مرسته غواړي او خپلې ستونزې ډیرې لږ په مستقیمه توګه بیانوي. ښايي د ماشومانو لپاره له لویانو سره خبرې کول یا پرې باور کول ستونزمن کار وي، په ځانګړې توګه هغه لویان چې دوی یې نه پیژني. دوی ممکن و ډار شي، وشرمیږي یا هم د خپلو احساساتو له بیانولو څخه ویره ولري. تاسو ښايي: (1) د ماشومانو د ځورونې په اړه ګنګوسې واورئ، (2) له داسې لویانو سره مخامخ شئ چې د یوه ماشوم لپاره مرسته غواړي او (3) د ماشوم نښو او چلند ته په کتو، د ماشوم ځورونې قضیې پر حقیقت شک وکړئ.

وضعیت، د سرپرست وضعیت یا د هغه د هویت هر اړخ ته له کتو پرته، ټول ماشومان باید له یوشان او منصفانه ملاتړ څخه برخمن شي. له هغه ماشوم سره د یوه بیچاره او ناهیلي کس په توګه چلند مه کوئ چې جنسیتي تاوتریخوالی یې تجربه کړی وي. هر ماشوم خپل ځانګړي ظرفیتونه، پیاوړتیاوې او درملیز ځواک لري. له قرباني شوي ماشوم سره داسې خبرې وکړئ چې پرې پوه شي، عزت او لیدلورو ته یې درناوی وکړئ.

**راز ساتنه.** له ماشوم یا تنکي ځوان کس سره د تعامل پرمهال له لیکلو، انځور اخیستلو او یا د جزئیاتو له هر ډول ثبتونې څخه ډډه وکړئ. ټیلفون، کمپیوټر یا هره بله وسیله چې ممکن فکر وشي چې د خبرو د ثبت لپاره کارول کیږي، له ځانه لرې کیږدئ. د ماشوم/تنکي ځوان اړوند معلوماتو یا تجربې د شریکولو لپاره اجازه واخلئ. یانې ان د هغو کسانو په اړه چې پرې باور لري باید پوښتنه وشي چې آیا کولای شی دغه معلوماتو له بل کس سره شریک کړی.

**د ماشوم له امنیت څخه ډاډ ترلاسه کړئ.** د ماشوم فزیکي او رواني امنیت زموږ لومړنی اندېښنه ده. له هغه سره په خپلو هر ډول تعاملاتو او دغه راز له هغه سره د اړیکو په هر بل پړاو کې، باید د ماشوم امنیت او خوندیتوب په پام کې ونیول شي.

| هغه څه چې باید ونه شي | هغه څه چې باید وشي |
| --- | --- |

که یوه د کس یوه اړمن ماشوم یا تنکي ځوان لپاره له تاسو مرسته وغوښته

- ✖ د یوې ګنګوسې په اړه څېړنه مه کوئ یا څه مه کوئ چې ماشوم/ځوان پیدا کړئ او ورسره مرکه وکړئ.
- ✖ د هغو جزئیاتو په اړه له چا سره خبرې مه کوئ چې تاسو پرې پوه شوي یاست.

- ✓ د شته خدمتونو په اړه هغه کس ته کره او نوي معلومات ورکړئ چې له تاسو یې مرسته غوښتې.
- ✓ د راز ساتلو اصل په پام کې ونیسئ.

که ماشوم/ځوان له تاسو مرسته وغوښته

## کتل

- ✖ که یې نه غوښتل، آرام او خصوصي ځای ته یې مه استوی یا یې مه ګوښه کوی.
- ✖ له لمس کولو، غېږ کې نیولو او فزیکي تماس نیولو څخه ډډه وکړئ، هغه کار د هغه لپاره ښایي تکان ورکوونکی او ځوروونکی وي.

- ✓ له ماشوم/ځوان څخه پوښتنه وکړئ چې آیا غواړي د خبرو لپاره یو آرام او خصوصي ځای پیدا کړي. ډاډ ترلاسه کړئ چې په دې ځای کې نور خلک تاسو نه ویني او نه مو غږ اورېدلی شي.
- ✓ ډاډ ترلاسه کړئ چې هغه ته مخامخ ناست یاست او سترګي مو د قرباني له سترګو سره په یوه سطحه کې دي. د بدن له مناسبو حرکتونو څخه ګټه واخلئ.
- ✓ له نجونو او هلکانو پوښتنه وکړئ چې آیا غواړي له یوه لوی کس نر یا ښځې سره خبرې کړي.

## غوږ نیول

- ✖ مرکه او ارزونه مه کوئ. هېڅ شی مه لیکئ، انځور مه اخلئ، د هغه معلومات یا تجربه په شفاهي بڼه چا ته مه وایاست.
- ✖ د داسې غوسه ناک عکس العمل، بې باوری یا حیرانتیا څرګندولو څخه ډډه وکړئ چې ښایي د ماشوم/ځوان د نا راحتۍ سبب شي.
- ✖ له سختو کلمو ګټه مه اخلئ یا مه له ماشوم/تنکي ځوان څخه ډېرې خبرې مه کوئ.

- ✓ په پوره دقت غوږ ونیسئ، غیر کلامي نښو او د بدن حرکتونو ته پاملرنه وکړئ.
- ✓ غلی او صبور اوسئ، هغه څه چې ویل کېږي، د قضاوت له کولو پرته یې ومنئ.
- ✓ پرېږدئ چې ماشوم/ځوان خپل احساسات بیان کړي او له خپلو کلمو څخه ګټه واخلي.

## آرامول

✓ ماشوم/ ځوان ته ډاډ ورکړئ چې دا يې ښه وکړل چې خپله تجربه يې بيان کړه.

✓ د قرباني ليدلورو، عقايدو او افکارو ته درناوی ولرئ.

✓ له داسې آرام بښوونکو جملو څخه ګټه واخلئ چې له فرهنګي ملاحظاتو سره سمون ولري. ځينې مثالونه يې دا دي:

“ستا خبره منم”- د باور جوړولو لپاره

“خوشاله یم چې دا خبرې د راته وکړې”- له ماشوم د اړيکو ټينګولو لپاره

“مننه چې خپله تجربه د له ماسره شريکه کړه”- د خواخوږۍ ښکارندولو لپاره

“تاسو ډېر زړور یاست چې له ما سره مو خبرې وکړې”- د اطمينان او پياوړتيا ورکولو لپاره

✖ هغه مهال چې د ماشوم سلامتي ستاسو په کنټرول کې نه وي، د داسې ژمنو له کولو ډډه وکړئ چې نه يې شئ عملي کولای؛ لکه د دې خبرې کول چې «هرڅه به سم شي».

✖ کله چې يې نه غواړي، قرباني د خبرو دوام ته مه اړباسئ.

## راجع کول

✓ پوښتنه وکړئ چې آيا داسې څوک شته چې دی پرې باور ولري او آيا غواړي هغه کس ته ورشو يا درسره ملتيا وکړم چې هغه کس پيدا کړي.

✓ تر هغه وخته چې د امنيت احساس ونه لري يا هم کوم باوري کس ته نه وي ورغلی، د قرباني تر څنګ پاتې شئ.

✓ د شته خدمتونو او هغه د لاسرسي د څرنګوالي په اړه خپله قرباني يا د هغه د باور وړ کس ته معلومات ورکړئ.

✓ دا مه وواياست چې له کومو څيزونو خبر ياست او له کومو نه. که مو غوښتل شوي معلومات نه لرئ، وواياست چې «نه پوهېږم» يا «دغه معلومات نه لرم».

✖ قرباني مه مجبوروئ چې له تاسو سره د خبرو کولو پرمهال خپل سرپرست يا بل کس له ځانه سره راولي، ځکه چې دغه کس ممکن خپله تاوتريخوالی کوونکی وي يا هم ښايي قرباني ونه غواړي خپله تجربه د هغه په شتون کې بيان کړي.

✖ قرباني په خواشينۍ يا نا راحته حالت کې مه پرېږدئ (د مثال په توګه، د ژړلو، غوسې يا د شوک په حال کې)

✖ هغه مه کوئ چې خپله وضعيت کنټرول کړی. وی پلان چمتو کړئ يا د ماشوم/ ځوان په اړه پرېکړه وکړئ.

## د ماشوم د عمر او د پریکړه کولو د وړتیا په اړه یادونه

په یاد مو وي دغه تخصصي کارمند چې له دې وړاندې یې د تاوتریخوالي ښکار شویو ماشومانو او تنکیو ځوانانو سره کار کړی، د دې لپاره ډیر مناسب دی چې د ماشوم یا تنکي ځوان د پریکړه کولو وړتیا خپله له دوی یا یې له سرپرستانو سره په مرغړی تشخیص کړي.

**د یوه نا متخصص کس په توګه ستاسو رول دا دی چې دغوی ته غوږ ونیسئ او دلاسا یې کړئ. داسې کس ته یې راجع کړئ چې دوی پرې باور ولري او د شته خدمتونو په اړه معلومات ورکړئ.** لاندې عمري کټګورۍ یوازې د ارجاع کولو لپاره دي او ممکن عمر، د بلوغ درجې، د ودې سطحې او نورو عواملو ته په کتو، توپیر ولري.

**تر 15 کلنۍ او له دغه پورته عمر لرونکي ځوانان** تر ډیره د بلوغ داسې حد ته رسیدلي وي چې کولای شي خپله پریکړه وکړي او خپلې تجربې بیان کړي.

⇢ **ستاسو رول:** (1) د دغو ځوانانو خبرو او دغې تجربې ته غوږ ونیسئ چې دوی یې بیانوي، (2) له دې ځوانانو سره مرسته وکړئ چې د ملاتړ د دوام لپاره له یوه باوري او د اعتماد وړ کس سره اړیکه ونیسي او (3) د شته خدمتونو او دغه ته د لاسرسي د خړنګوالي په اړه معلومات ورکړئ.

**له 6 تر 9 کلن ماشوم او له 10 تر 14 کالو تنکي ځوانان** شايي وکولای شي چې د تاوتریخوالي په اړه خپله تجربه بیان کړي یا شايي دغه وړتیا ونه لري. دغوی شايي خپله پریکړه وکړي یا یې ونه کړي.

⇢ **ستاسو رول:** (1) له ماشوم یا تنکي ځوان سره مرسته وکړئ چې د باور وړ لوی کس پیدا کړي چې د نورو پړاوونو پرمهال ترڅو د ملاتړ وکړي او (2) د شته خدمتونو او دغه ته د لاسرسي د خړنګوالي په اړه معلومات ورکړئ. دغه معلومات هم ماشوم/ تنکي ځوان او هم د دغه د باور وړ لوی کس ته وړاندې کړئ.

**له 0 تر 5 کلنۍ کوچني ماشومان او تي رودونکي** د ارتباطي مهارتونو نه درلود له امله نه شي کولای د تاوتریخوالي په اړه خپله تجربه بیان کړي. شايي بل کس لکه ملګری، سرپرست، د کورنۍ غړی یا د ټولنې غړی د ماشوم له خوا مرسته وغواړي.

⇢ **ستاسو رول:** د ماشوم نیږدې کس ته د شته خدمتونو او دغه ته د لاسرسي د خړنګوالي په اړه معلومات ورکړئ. .

سرچینه: UNHCR, Best Interest Determination Guidelines, 2008. IRC/ UNICEF, Caring for Child Survivors of Sexual Abuse, 2012.

دغه سرچینه باید د جنسیتي تاوتریخوالي په اړه له 2015 IASC
سره یوځای وکارول شي.

www.gbvguidelines.org

www.gbvguidelines.org/pocketguide

GET IT ON Google Play | Download on the App Store

د جنسیتي تاوتریخوالي جیبي لارښود